مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالباري جهاني ۲۰۲۰/۰۳/۲۴

# لوبه بدليږي

د مارچ پر ديرويشتمه، د امريکا خارجه وزير مايک پومپيو، په څه کم يوه مياشت کي، د دوهم ځل لپاره افغانستان ته سفر وکړ. د ښاغلي پومپيو سفر بې نتيجي ختم سو؛ خو په نتيجه کي د امريکا حکومت دونه په غوسه سو چي خارجه وزارت په هماغه ورځ، شخصاً د مايک پومپيو په قلم او صلاحيت، اعلاميه صادره کړه او د روان کال لپاره يي خپل مالي کومکونه تر يو ميليارډ ډالرو پوري کم کړل او د راتلونکي ۲۰۲۱ کال لپاره يي د يو ميليارډ نور کموالي تهديد وکړ. پومپيو، له کابل څخه تر روانېدلو وروسته، سمدستي قطر ته ولاړ او په دوحه کي يي له طالب مشرانو سره هم وکتل.
دا چي پومپيو دا اعلاميه په دونه تفصيل او په دومره تلوار خپره کړه له دې څخه ښکاري چي په دې باره کي مخکی له مخکي فيصله سوې او متن ترتيب سوی وو. زما د دې ادعا لومړی دليل دا دی چي خارجه وزارت، هغه هم په دونه عجله او وارخطايي، د دونه جدي او حياتي اقدام او د دومره زياتو پيسو، چي سمدستي دوه ميليارډه کيږي، د کمولو او زياتولو صلاحيت نه لري. حتى جمهوررئيس ټرمپ هم بايد د دونه زياتو پيسو د منظورولو او يا له يوه ځايه اخيستلو او بل ځای ته ورکولو په برخه کي له کانګريس څخه منظوري واخلي. يو احتمال به دا وي چي پومپيو عصبي سوی، له خپل صلاحيت څخه يي کار اخيستی او په اصطلاح پښې يي تر کمبلي اوږدې کړي دي. البته دا احتمال د پومپيو په څېر يوه با تجربه ډيپلومات په حق کي، چي ټول عمر يې، د سي آی ای د رياست په شمول، په لوړو مقامونو کي تېر کړی دی، کمزوری ښکاري.
د خارجه وزارت په اعلاميه کي، له سره څخه تر پايه پوري، دواړه مشران، اشرف غني او عبدالله، يو شان ملامت بلل سوي او د ګډ حکومت پر سر توافق ته د نه رسېدلو پړه وربانديي اچوله سوې ده؛ په داسي حال کي چي دواړه خو، د ماشومانو په څېر، يو شان ملامتېدلای نه سي. په دواړو کي به يو حتماً يو څه پر حق وي او د دوی د لجاجت صدمه بايد ټول افغان اولس ته ونه رسيږي.
د بلي خوا چي ورته وګورو، که اشرف غني پر حق وي او که نه وي دغه ګړی يي د دفاع د وزارت، داخله وزارت، استخباراتو او ټولو مهمو ادارو واک په لاس کي دی. د هغه حکومت، له ټولو ستونزو او نيمګړتياوو سره، يو واقعيت دی. په مقابل کي عبدالله دوې پښې په يوه موزه کي اچولي او ځان قانوني اولسمشر بولي؛ خو د يوه والي او يوه اولسوال د مقررولو توان ورسره نسته . په عمل کي معلومه سوه چي د ده له خوا ټاکل سوي واليان چا دفتر ته پرې نه ښودل. د وزيرانو او سفيرانو خبره خو لا پرېږده.
په دې صورت کي، زما په فکر، کابل ته د پومپيو سفر ته هيڅ حاجت نه وو بلکه خليلزاد هم عبدالله ته ويلای سوای چي هلکه هغه په سل هاوو ميليونه ډالره ، چي د امريکا له برکته دي تر لاسه کړي دي، کافي دي. د بل ځل انتخاباتو لپاره تياری وکه. او که چيري د عبدالله په څېر يوکمزوری سياسي مشر، چي پرته له ځو کرايي ميټينګونو او چيغو وهلو څخه يي نور هيڅ په وس پوره نه وي، دونه مهم دي چي پومپيو يي د خوشالولو او راضي کولو لپاره له واشنګټن څخه ورځي نو بيا خو په افغانستان کي نور داسي کسان هم سته چي هم تر عبدالله ډېر غښتلي او هم د هغه په څېر د امريکا له برکته د هر څه ښتنان سوي او تر عبدالله ډېر ثناګويه دي. ګلبدين، سياف، کرزي، عطا، دوستم، خليلي او نورو لېوانو څه ګناه کړې ده چي په همه شموله حکومت کي برخه نه ورکوله کيږي.
زه د دغو دلايلو په اساس، چي خدای دي وکړي زما ټول استدلال غلط وي، دې نتيجي ته رسېږم چي امريکا د ملانصرالدين پوستين ته چل جوړ کړی دی. په اصل کي يي غوښتل چي په خپله پاليسي کي ۱۸۰ درجي تغييرراولي او دې کار ته يي ډېره ښه پلمه، په ډېر ښه وخت کي، په ډېره لنډه فاصله کي په لاس ورغله. دا دي هم زموږ په ياد وي چي له کابل څخه قطرته د پومپيو سفر ډېر بې دليله او يوازي د تفريح او سات تيري لپاره نه وو.
د اعلاميي په دوهم پراګراف کي راغلي دي« متحده ايالات له دې امله ژوره خواشيني څرګندوي چي د افغانستان جمهوررئيس اشرف غني او پخواني اجرائيه رئيس عبدالله عبدالله خارجه وزير پومپيو ته اطلاع ورکړې ده چي دوی نه سي کولای د يوه داسي همه شموله حکومت پر جوړولو باندي موافقه وکړي چي هغه د هغو ستونزو چاره وکړي چي حکومتولي، سوله او امنيت ورسره مخامخ دي او د افغانستان د خلکو د روغتيا او ښېګني لپاره لازم دی. متحده


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيز بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولـئ

ایالات له دې امله له دوی څخه ماءیوس دی چي د دوی دغه راز سلوک د افغانستان او زموږ مشترکو ګټو ته تاوان رسوي»
لومړی خو « د اطلاع ورکړې ده » له عبارت څخه په څرګنده معلومیږي چي دا خبري او استدلال باید په مخامخ لیدنه کي نه وي سوی او دواړو مشرانو خارجه وزیر پومپیو ته خپله عقیده د مکتوب یا ټلفون له لاري څرګنده کړې وي؛ چي زه هغه خپله پخوانی خبره تکراروم چي دا اعلامیه مخکي له مخکي ترتیب سوې وه. که له عبارت پردازیو څخه تېر سو نو بله خبره دا ده چي که له همه شموله حکومت څخه د پومپیو مطلب هغه مخکنی دوه سری حکومت وي هغه خو څه باندي پنځه کاله تجربه سو، چي نه د امنیت او نه د سولي په درد لګېدی. له بلي خوا اشرف غني داسی یوه سړي ته چي د ده قدرت او داخلي امنیت او سولي ته هیڅ ډول خطر نه سي متوجه کولای ولي، په لوی لاس، په حکومت کي پوره نیمایي ونډه ورکړي؟ موږ اورېدلي دي چي دا ځل عبدالله تر پخواني دوه سري حکومت زیات امتیازات غوښتي دي او اشرف غني یې ورکولای نه سي.
زه په دې عقیده یم چي امریکا د لوبي د بشپړ بدلولو په لټه کي ده. دې حکومت، چي د منځته راوړلو او دوام بشپړ مسوولیت یې د امریکا په غاړه دی، نه یوازي نتیجه ورنه کړه بلکه امریکا ته یې، په داسي حال کي ځاني او مالي تاوانونه ورسول چي هغه هیواد ته یې هیڅ ګټه ونه کړه او بده خو لا دا ده چي د په افغانستان کي د رواني جګړې پای نه چاته معلوم او نه یې سمه پیش بیني کولای سي. نه د طالبانو د له منځه وړلو او په افغانستان کي د امنیت د ټینګولو لپاره د اوباما د قواوو زیاتولو ګټه وکړه او نه د ټرمپ د قواوو کمولو. زه یقین لرم چي امریکا، د نړۍ د یوه ستر طاقت په حیث، د افغانستان په څېر یوه کمزوري هیواد سره د مقابلې لپاره، د خپلو عملیاتو د پلان دوهم او دریم پړاو سنجولی وو. لومړی پړاو پر ختمېدلو ښکاري. دوهم ته یې ځان ټینګ کړی.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ